فاروق اعظم
۲۰۱۷/۱۰/۰۴

# قیامت کبرى تیر سو

لوى قیامت چي د عاشورى یا د محرم الحرام لومړى لس ورځي وي، تیري سوې؛ کوچنى قیامت یا قیامة الصغرى لا یوه میاشت نور روان دى. دا غم ځلوېښت ورځي دى. عاشورى د کابل په هغو سیمو کى چي شیعه ګان لږ او ډیر اوسي قیامت دى. چي په یوه سمیه کى لس کوره شیعه وي، پاته نوي کورونه یى د دولتي واک او سپین سترګى په زور تر تاثیر لاندي راوستى او یرغمل کړي یي دي. لویي لاري او عام سړکان یى د خلکو د تګ او راتګ پرمخ بند کړيدي، پر عامو سړکانو یى توري دروازي جوري کړي او لوډسپیکرو کى په لوړ آواز ۲۴ ساعته د ژړا، ځان وهلو او نوحي په نارو یى د خلکو غوږونه کاڼه کړي او په شاوخوا کورونو کى یي له ماشومانو، بوډاګانو او ناروغانو راحت تښتولى دى. پخپلو لېدغرو حرکاتو سنیان تهدیدوي. سنیان له نزاکته څه نه ورته وایى خو دوى له دغه بڼه وضعیت او تسامح څخه مسلسله ناوړه ګټه پورته کوي.

له بده مرغه حکومت دومره کمزور دى چي په لوى لاس یى د عاشورا په ورځو کى د کابل د امنیت د تأمین څخه خپل عجز اعلان کړ او هزاره شخصي ملیشو ته یى دولتى وسلى رسما توزیع کړى چي د کابل د ښار د ځینو برخو امنیت وساتي. دغو لېدغرو د امنیت په نوم لویى لارى بندى کړى، عام خلک یى سخت ازار کړل او د خپل قومي او مذهبى قوت د ښوولو په منظور یي په ډیر غرور او مافیایي شکل زورآزمایي وکړه. شیعه ګان دغه کار پر هیواد د امریکایانو د تسلط (۲۰۰۱م) راهیسى هرکال کوي. دولت خپل ځان پخپله د خلکو په نظر کي بى وسه، کمزور او سپک کړیدى او د مشروعیت هغه اصل یي خپله تر پښو لاندي کړیدى چي په هیواد کى دولت د قوى د استعمال یوازنى مرجع ده .

تاسي دغه فضیحت ته وګورى؛ جمهور رئیس د کابینې سره تکیه خانى ته روان وي او شیعه ګانو ته د امام حسین (رض) د شهادت فاتحه ورکوي. په داسى حال کى چي سنیان ډیر محبان علي او اهل بیت دي، خو رئیس جمهور هیڅوخت په دغه ورځ د سنیانو یو جومات ته نه دى تللى. ولي؟ معنى داچي د امام حسین (رض) سره دده کومه رابطه نسته او دى انګیري چي امام د شیعه ګانو خپل وو او دى باید غمرازي ورسره وکړي. جمهور رئیس د دولت او ملت دواړو مشر دى؛ هغه د شریعت، قانون او عرف له مخي د هیواد د لوړترین مقام درلوونکى شخص دى. خو هغه په تکیه خانه کى داسي کوچنى، په تظاهر او اکټ کړه غاړه ناست وي چى دده د شان سره هیڅ مناسب نه وي؛ ته به وایى چي امام حسین (رض) د ده د کورنى یو نژدى چا شهید کړیدى او دى یى اوس ورثى ته په عذر ورغلى دى. له ډیره خوشامنده حیران وي چي څومره ځان مخلص او هیجاني وښیي او څه ډول ادبیات

استعمال کړي چې هغوی دده په اخلاص باور وکړي. همدا سبب دی چې ګاهي امام حسین د خدای لمسی کړي او ګاهی رضی الله عنها ورته وایي. د ځان د ډېر نژدی کولو په منظور دا هم ورته وایی: «خلکو راته ویل چې مه ورځه، انتحاري حمله به وسي؛ خو زه دایم تاسی ته راغلم؛ ما ویل پروا نلري چې د امام حسین د محبانو سره یوځای شهید سم.» ؟؟؟؟ هغه بل مشر خو په اکټ او تظاهر کی ډېر ماهر وو. په تورو جامو کی به د تکیه خاني په سر کی ناست وو. د مصنوعي ژړا سترګي به یی د تلویزون کامرو ته په مهارت نیولي وي. په ماشوم زوی به یی توري جامې اغوستي، شنه پټه چې «یا حسین» پر لیکلی وو، تر سر ورتړلی وه؛ په غیږ کی به یې داسی کښینولی وو چې تا به ویل د کربلا د جنګ له سخت میدانه یې تازه دغه یتیم ته نجات ورکړی دی .

د مشرانو دغه اکټونه او ریاکاری د څه لپاره؟ په انتخاباتو کی د رایی لپاره؟ د تورو کڅوړو لالچیان دي؟ د شخصیت کمزوري ده؟ د دین څخه ناپوهي ده؟ د خپل ولس په نبض او کلتور نه پوهیږي؟ امریکایان ورته وایي؟ دا ولي؟ شیعه زموږ د هیواد یوه محترمه کتله ده او حق لري چې خپل مذهبي مراسم په امن او ډاډ سره تر سره کړي. خو دا دومره ډرامې د څه لپاره؟ راځی د ملي مصالحو د تأمین په منظور روان زهرجن سکوت مات او دغو سؤالونو ته جواب پیدا کړو چې راتلونکی کلونه دغه صغری او کبری قیامتونه په دومره شدت نه وي.

درناوي

فاروق اعظم

دوشنبه - ۲ اکتوبر (د محرم الحرام یوولسمه) ۲۰۱۷م

خوشحالخان مینه - کابل